Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۱۳ مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۵ یمه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۴/۱۱



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- تخار کې د سوداګریز مارکېټ جوړېدل؛ د پانګونې، سوداګرۍ او کارموندنې له پاره نوی فرصت

۲- د ټاپي پروژې پرمختګ؛ د سیمه ییز اتصال د پیاوړتیا په لور مهم ګام

۳- بغلان کې د بورې کارخونې د تولید د زیاتوالي له پاره د لبلبو کر پیل

## تخار کې د سوداګريز مارکېټ جوړېدل؛ د پانګونې، سوداګرۍ او کارموندنې له پاره نوی فرصت



د اقتصادي کمېسيون له لوري د تخار ولايت په مرکز تالقان ښار کې د ښاروالۍ اړوند پر ځمکه د اووه پوړيز سوداګريز مارکېټ د جوړولو طرحې تاييد د خصوصي پانګونې د پراختيا او د ښاري اقتصادي فعاليتونو د پياوړتيا په برخه کې يو مهم ګام ګڼل کېږي. د دغې طرحې له مخې، خصوصي سکتور به د ۱۱۰ ميليون افغانيو په پانګونې سره ياد سوداګريز مارکېټ جوړ کړي، چې د سوداګرۍ د پراختيا ترڅنګ به لسګونه هېوادوالو ته د کار زمينه هم برابره کړي. د افغانستان اسلامي امارت په وروستيو کې کلونو کې د خصوصي پانګونې هڅولو او د هېواد د اقتصادي ودې په موخه مهم ګامونه اخيستي دي. د سوداګريزو مارکېټونو جوړول نه يوازې د سوداګرو له پاره معياري کاري چاپېريال رامنځته کوي، بلکې د کورنيو پانګوالو باور هم زياتوي او د نورې پانګونې د جذب له پاره مناسب شرايط برابروي. دغه ډول پروژې په ښارونو کې اقتصادي فعاليتونه منظموي او د خدماتو کيفيت ورسره لوړېږي.

د تالقان ښار ياد سوداګريز مارکېټ پروژه به د جوړېدو پر مهال د ساختماني سکتور له پاره د کار فرصتونه رامنځته کړي او له بشپړېدو وروسته به په مختلفو سوداګريزو او خدماتو برخو کې دايمي دندې ايجاد کړي. د دې ترڅنګ به، د سيمې اقتصاد ورسره پياوړی او عوايد به ورسره زيات شي.

## د ټاپي پروژې پرمختګ؛ د سيمه ييز اتصال د پياوړتيا په لور مهم ګام

د ټاپي (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هند) ګازو نلليکې پروژه چې د افغانستان د انرژۍ او ترانزيټ په برخه کې له مهمو پروژو ګڼل کېږي، د



وروستيو معلوماتو له مخې يې د زيربنايي چارو پرمختګ د پام وړ چټک شوی دی. د افغانستان اسلامي امارت د وياند محترم مولوي ذبيح الله مجاهد په وينا، تر اوسه شاوخوا ۱۳۰ کيلومتره مسير هوار شوی او همدارنګه ۹۱ کيلومتره پايپونه په عملي ډول نصب شوي دي. دغه پروژه، چې هدف يې د ترکمنستان د ګازو انتقال د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته رسول دي، نه يوازې د سيمه ييزې انرژۍ د اتصال له پاره مهمه ده، بلکې د افغانستان د اقتصادي عوايدو، ترانزيتي رول او صنعتي ودې له پاره

هم ستر اهمیت لري. د ترکمنستان له پولې څخه تر هرات صنعتي پارک پورې د نلليکې تول اوږدوالی ۱۵۳ کیلومتره دی، چې د همدې مسیر په اوږدو کې د پایپ لاین غځولو چارې رواني دي. د تاپي پروژې له امله به د افغانستان د ترانزیټ عواید زیات شي، زرګونه مستقیم او غیر مستقیم کاري فرصتونه به ایجاد کړي او په هېواد کې به د انرژۍ د کمښت ستونزه تر ډېره حده راکمه کړي.

## بغلان کې د بورې کارخونې د تولید د زیاتوالي له پاره د لبلبو کر پیل

د بغلان د بورې امارتي کارخونې د بورې تولید د زیاتوالي او د خامو موادو د اړتیا د یوې برخې د پوره کولو په موخه، د لومړي ځل له پاره پر ۴۵۰ جریبه ځمکه د لبلبو کر پیل کړی دی. دا اقدام د کرنيز تولید د پراختیا او د صنعتي سکتور د ملاتړ په برخه کې مهم پرمختګ ګڼل کېږي. د کارخونې د مسوولینو په وینا، د دې پروژې هدف یوازې د تولید زیاتوالی نه دی، بلکې د کارموندنې د پراخېدو او د وارداتي خامو موادو پر اړتیا د کمولو هڅه هم ده. د هغوی په باور، د لبلبو کر به د کارخونې د تولیدي ظرفیت په لوړولو کې مستقیم رول ولوبوي. د بغلان د بورې امارتي شرکت مسوولینو رسنیو ته ویلي، پر یادې ۴۵۰ جریبه ځمکه د لبلبو کر پیل شوی دی، چې د دې پروژې له پاره شاوخوا ۱۲۰ واحده د لبلبو تخمونه د ۲۸ زره امریکایي ډالرو په ارزښت له جرمني وارد شوي دي او اوس یې عملي کرنه روانه ده. له بل لوري، د کرنیزو فعالیتونو ترڅنګ لسګونه هېوادوال په مختلفو برخو کې په کار بوخت دي چې له امله یې د سیمې خلکو ته نښه کاري فرصتونه برابر شوي دي. په هېواد کې د دا ډول پروژو پراختیا نه یوازې د بورې د تولید په برخه کې د ځان بسیاینې په لور مهم ګام ګڼلی شو، بلکې د کرنې او صنعت د پیاوړتیا له پاره هم د دا ډول ګامونو پورته کول ضروري دي. دا ګامونه د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي او په نورو هېوادونو د افغانستان د تکیې د کمېدو په لور اساسي ګامونه ګڼل کېږي.

